آصف بهاند

# د لوږې څونامي

## ۴۷مه برخه

په افغانستان کې د لوږې څونامي نه یوازې غلې شوې نه ده، بلکې د بېلابېلو دلایلو او عواملو له مخې نور هم ورځ تربلې مرګونې کېږي. په نویو راپورونو کې راغلي دي چې: «افغانستان کې ۳،۷ میلیونه ماشومان د خوارځواکۍ له خطر سره مخ دي»

نور خبرونه هم دي ته ورته ډېرخواشینونکي دي، یوازې سرلیکونه یې چې ولیدل شي، په لړځه‌پوه خلک پوهېږي چې خبره څومره خرابه ده او د څومره خلکو ژوند او راتلونکې له خطرونو سره مخ دی. دا د څو همداسې ورستیوخبرونو سرلیکونه دي:

– بي‌بي‌سي پښتو:
له سختولارو او شګلنو دښتو او له خطرونوډکو لار څخه د تېریدو پرمهال له تلونکو ځوانانو څخه ژوند اخیستی،

– بي‌بي‌سي پښتو:
افغانستان کې بېوزلي: وچه ډوډۍ، لس بچیان ورسره د یوه بېوزلي پلار ژوند،

– تاند:

تقریباً پنځه «میلیونه افغان میندې او ماشومان د تغذیې مرستو ته اړتیا لري»،

– کتواز مهالنۍ:
په کندهار کې اته کلنه نجلۍ د لوږې له امله مړه شوې؛ یونیسف: ۳.۷ میلیونه افغان ماشومان د خوارځواکۍ له جدي خطر سره مخ دي،

– تاند:

م.م: د بودجې کموالی په افغانستان کې د خوارځواکۍ د ملاتړ پروګرامونه له خطر سره مخامخوي،

– تاند:
اوچا: اړمنې افغان کورنۍ د لومړنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره له سختو انتخابونو سره مخ دي،

– تاند:
افغانستان کې له ۲۲ میلیونه ډېر خلک بشري مرستو ته اړتیا لري،

– تاند:

افغانستان لپاره د بشري مرستو بودیجه تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلې،

– بي‌بي‌سي پښتو:
ملګري ملتونه: د مرستو کمښت میلیونونه افغانان له خطر سره مخ کوي،

– تاند:

ډبلیو اف پي: په هرو پنځو افغانانو کې یو له لوږې سره مخ دی

– تاند:

افغانستان کې له ۴.۷ میلیون زیات ښځې او ماشومان د خوارځواکۍ له امله بیړنۍ درملنې ته اړتیا لري...

ترڅو به د لوږې د ځونامي د بېلابېلو تاثیرتو او پایلو خبرونه راځي، موږ به وای وای او افسوس کوو او نور هېڅ؟ افغانان د رنګارنګ‌بلاوو په منځ کې راګیر دی، د دې چاره باید وکړای شي.

د ملګروملتونو د خوړونړیوالي اداري په یوه تازه ریوټ کې ویلي دي چې «... د سیمي بې‌ثباتی، د سرحدونو بندېدو او اوږدې بدیلې ترانسپورتي لارې افغانستان ته د خوراکي مرستو رسول ډېر پېچلي کړي دي.»

د ایران ـ امریکا ـ اسرایل جګړې و ښوده چې که سوله هم وشي، د هورموز تنګي د بندیدو په وجه کرنیز اړین مواد هم بند و او د کال په پای کې د کرنیزو محصولاتو ضرر او کمی ډېر خلک له لوږې سره مخ کړي. ملګري‌ملتونه وایي چې: د منځې ختیځ جګړې په میلیونونو کسان له لوږې سره مخ‌کړي دي.

د داسې خنډونو د پېښېدلو په وجه مرستندویان نه شي کولای په زرګونو اړمنو افغانانو ته اړین خوراکي توکي ورسوي. جګړې، اقتصادي ستونزې، وچکالي، د اقلیم بدلون، بېکاري او د ګڼ‌شمیر کډوالو راستنېدنه د لوږې ځونامي د قوي کېدو عمده لاملونه یادېدلای شي.

اوتومبایوا په خپلو تازه څرګندونو کې اشاره کړې ده چې په افغانستان کې څنګه څو ستونزې په یوځای د یوه لوی وژونکي توپان د رامنځته کولو مقدمات جوړوي:

«د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې روزوا اتونبایوا د چهارشنبې په ورځ خبرداری ورکړ چې افغانستان– د ښځو او لرکیو پر ضد د لا ژورو محدودیتونو، د مرستو د پرې کېدو، د اقتصادي ستونزو، اقلیمي ناورینونو او د کډوالو د ډله‌ییزو ستنېدنو له امله – چې میلیونونه خلک د لا زیاتې بېوزلۍ پر لور د ټېل وهي- له "ستر طوفان" یا "کامل کړکېچ" سره مخامخ دی.»

په کندو کې هېڅ نه‌لرو، خو د نفوسوشمېر مو مخ په بره روان دی. ملګري ملتونه وایي؛ د افغانستان نفوس به د ۲۰۲۶ تر پایه ۴۸ نیم میلیونو ته ورسېږي

بله ستونزه دا ده چې د عاید، تعلیم او د ژوند منابع ټول ترلي دي او د هېواد نفوس په زیاتېدو دی. له ګاونډیو او لرې هېوادونو څخه په ناڅاپي ډول د ډېرشمېر افغانانو بېرته‌راتګ هم د خلکو پر اقتصادي ستونزو اغیز کړی دی.


د افغانستان ترټولو ښومسلمانو(؟) هېوادونو (ایران ـ پاکستان) په تېرو دوولسو میاشتو کې تر درې میلیونو ډېر افغانان د نړیوالو منل شوو قوانینو خلاف په زور افغانستان ته ستانه کړي دي. دې کار په افغانستان کې له پخوا شته اقتصادي او بشري بحران نور هم ګړندی او ژور کړی دی.

اوس لیدل کېږي چې د ملیونونو هېوادوالو بېرته راتګ د خوراکي‌توکو پر بیو او د خلکو پر عوایدو منفي اغیز کړی دی؛ چې دا هم په افغانستان کې د لوږې ځونامي د څپو د لامرګوني کېدو سره مرسته کړې ده.

پر افغانستان باندې د لوږې ځونامي څپو داسې چمونه کړي چې اوس د څو روپیو په بدل کې ځوانان د مرګ غېږې ته ځان سپاري. کور دننه مې د جنګیالیو ګروپونو لیکو ته د بېکاره ځوانانو

جذب اورېدلی و، خو اوس د افغان بیکاره ځوانانو له ډلو نه بهرنیو جګړو ته هم زموږ ځوانان لېږل کېږي. د زاویه نیوز په یوه نوي راپور کې داسې راغلي دي:

«ترلاسه شوي اسناد ښیي، چې په خوست او یو شمېر نورو ولایتونو کې سیاحتي شرکتونو په لوړ قیمت روسیې ته د افغان ځوانانو د استولو لړۍ پیل کړې ده.
دغو ځوانانو ته د روسیې سیاسي ویزې اخیستل کېږي او ورسره لیک لیکل کېږي، چې د روسي کمپنیو لخوا ورکول کېدونکی معاش به معرفي کېدونکو کسانو/ شرکتونو سره نیمایي کوي.
زاویه نیوز ته د رسېدلو اسنادو پر اساس، استول کېدونکي کسان ژمنه کوي چې د پیسو د سرچینو په اړه به څه نه وایي او د روسیې د حکومت لخوا د تشویق په نوم ورکول کېدونکې پیسې به هغو کسانو ته چې دوی دغو ویزو ته معرفي کوي، سپاري.
په یوه لیک کې واضح شوي، چې د روسیې حکومت دغو کسانو ته د میاشتې ۲۵۰ زره روبله معاش ورکوي.
په دې اقرار خط کې لیکل شوي، چې روسیې ته له رسېدو وروسته قراردادي شخص ته د کار د شرایطو، ځای او وخت د ټاکلو اختیار له روسي حکومت سره دی: «د شخص د غوښتلو پر مهال ورکول کېدونکي امتیازات د معرفي کوونکي حق دی.»
په مسکو کې یو افغان ځوان د نوم نه ښودو په شرط د دغې پروسې جزییات له زاویه نیوز سره شریک کړل او په وینا یې: «دغو افغان ځوانانو ته دوه نیمې میاشتې نظامي روزنه ورکول کېږي. له ۲۵۰ تر ۳۵۰ زرو روسي روبلو پورې معاش ورته ټاکل کېږي. دوه میاشتې وروسته یې روسیه له اوکراین سره د جګړې لپاره سرحدي سیمو ته استوي. قرارداد داسې دی، چې له شپږو یا تر دې زیاتو میاشتو جګړې وروسته بیا په میاشت کې د څلور میلیونه روبله معاش، کور او د کورنۍ غړو ته روسي د پاسپورټ ورکولو تعهد ورکول کېږي. خو له دې جګړې تر اوسه هېڅوک ژوندي بېرته ندي ستانه شوي او ژوندي ګرځېدل هېڅ امکان هم نلري.»
په خوست او ګڼو نورو ولایتونو کې اوس د سیاسي چېنلونو له لارې سیاحتي شرکتونو د دغو سیاسي ویزو لینکونه پیدا کړي او بې روزګاره افغان ځوانان ورته جذبوي.»




دا هرڅه د لوږې له لاسه کېږي چې د هېواد ځوانان مو بهر ته د کار موندلو په غرض پر داسې مرګونو لارو باندې سفرونه کوي چې رسک یې بې‌اندازې ډېر دی. ښه بېلګه یې د نیمروز شګلنو دښتو کې د ګڼشمېر زلمیانو مړه کېدل دي.

د لوږې‌ځونامي د مقالو د لړۍ په ډېربرخو کې ما ویلي او لیکلي دي چې د لوږې ځونامي مخنیوی د خیراتونو د ورکړې په وسیله نه‌شي کېدای، باید خلکو، په تېره ځوانانو ته د کار زمینه مساعده شي.
په افغانستان کې د لوږې‌ځونامي‌ځپلو خلکو غوښتنه د خلکو په درد ـ دردمن‌شاعر ښاغلي عبدالوهاب باور داسې انځور کړې ده:

مئینان نـه دي چې یې یـار پسې زاره وچاوده
دا قام نهر دی ددوئ کـار پسـې زاره وچـاوده

ستوري ترې نه غواړو بس غواړو ترې نظر د انسان
زمـوږه داسـي یـو سـرکـار پسې زاره وچـاوده

خلک مرغـیـو تـه غنم شـیندي چې وږي نشي
زمـا د وږي ولس جـوار پسـي زاره وچـاوده

دلته د هر یـو مسلکي پـر ځـای قـاري تعین شي
د دې وګـړو اهـل کـار پسـې زاره وچــاوده

ځوک چې د وږې نه لایک نهٔ کوي نو بلاک مې دې کړي
زمـا یـاغـي بـاغـي دلـدار پسـې زاره وچـاوده

دنیا دوزخ شي خود کشي شي ابدي جهنم
باوره ځکه خو یې دار پسې زاره وچاوده

